## افغانستان: دویم کتار

د افغانستان حکومت د انسان د قاچاق د مخنیوي لپاره د پام وړ ترسره شویو هڅو سره سره د انسان د قاچاق د له منځه وړلو معیارونه په بشپړ ډول نه دي پوره کړي. حکومت د رپوټ ورکونې د مخکیني پړاو په پرتله زیاتېدونکې هڅې کړي، د همدې امله افغانستان په دویم کتار کې پاتې شو. حکومت د جزا په قانون کې د نویو تعدیلاتو په راوستلو او تصویب سره د انسان د قاچاق د جرمونو د مجازاتو لپاره خپلې هڅې ګړندۍ کړې دي او د بچه‌بازۍ *[هغه فعل چې نارینه د ټولنېزې او جنسي سرګرمۍ لپاره د هلکانو څخه ناوړه ګټه اخلي]* تر فعل پورې تړلي ټول اعمال یې ناقانونه او جرمي کړنه بللې ده. حکومت د قاچاق څخه زیات شمېر زیانمن شوي کسان وپېژندل او د یوې نړیوالې مؤسسې په مرسته یې د انسان د قاچاق په وړاندې د مبارزې لپاره د مجني علیه یا زیانمن د پېژندنې د کړنلارو په ګډون، د یوه ښوونیز لارښود مسوده چمتو او وروستۍ کړه. د افغانستان د حکومت له خوا د وضع شوې پالیسۍ پر بنسټ، د افغانستان ملي اردو نه شي کولای چې ماشومان وګوماري، همدارنګه حکومت په وسله والو نښتو کې د ښکېلو ماشومانو د بېلولو، انفصال او د هغوی د ځارنې لپاره کړنلارې جوړې کړې.

همدارنګه حکومت د ماشومانو محافظتي قطعه جوړه کړه تر څو په امنیتي ځواکونو کې د ماشومانو له ګومارنې څخه مخنیوی وکړي، چې په دې برخه کې یې د ۲۰۱۷ کال د اپریل څخه تر جون پورې د ۷۹ماشومانو د ګومارنې عملاً مخنیوی کړی دی. خو بیا هم حکومت په ځو مهمو برخو کې د لږ تر لږه معیارونو په پوره کولو نه دی توانېدلی. د جرمونو په ترسره کولو، په تېره بیا د جنسي ناوړه ګټې اخیستنې، ناقانونه ګومارنې او د افغانستان د امنیتي ځواکونو لەخوا د ماشومانو په کارونه کې د چارواکو د ښکېلتیا په اړه د باوري څرګندونو سره سره، حکومت د انسان د قاچاق په اړه د چارواکو د عدلي تعقیب یا محکومیت په تړاو د نویو اقداماتو په هکله کوم خبر نەدی ورکړی. د ولسوالیو او ولایتونو په کچه مامورین لا هم د انسان د قاچاق او د نورو توکو د قاچاق تر منځ تلفیق او نەبېلتانه ته دوام ورکوي او زیات شمېر یې د انسان د قاچاق څخه د زیانمن شوی یا مجنی علیه په پېژندنه نه دي بریالي شوي، چې دغه چاره د مجرمینو په توګه د یو شمېر زیانمنو د توقیف او عدلي تعقیب لامل ګرځېدلې ده. په ټوله کې د انسان د قاچاق څخه زیانمنو کسانو ته محافظتي اقدامات نابسیا او نیمګړي دي، ځکه حکومت د رپوټ ورکونې د دورې په ترڅ کې د زیانمن یا مجني علیه د پېژندنې لپاره معیاري کړنلارې نه دي پلې کړې او د مرستندویه مرجع له خوا د مالي لګښت تر بندېدو وروسته، د انسان د قاچاق د زیانمنو لپاره یوازینۍ حکومتي سرپناه هم تړل شوې ده.

### د افغانستان لەپاره سپارښتنې

د افغان امنیتي ځواکونه له خوا د ماشومانو ناقانونه ګومارنه او کارونه دې ودرول شي او ماشومان دې د حکومتي او ناحکومتي پوځي ډلو د کتارو نو څخه وایستل شي او پوره محافظتي، مراقبتي او د بیا یوځای کېدو خدمات دې ورته برابر کړي؛ د قانوني پړاوونو د رعایت او پلي کولو پر مهال دې د قانون د هغو پلي کوونکو او د وسله والو ځواکونو د هغو منسوبینو په ګډون چې په ناوړه ګټه اخیستنه لکه بچه‌بازۍ تورن دي، د کشف، تحقیق او تعقیب اړونده چارې ګړندۍ کړي او مرتکبین یې دې په عادلانه توګه مجازات کړي؛ د اخلاقي جرمونو د عدلي تعقیب او د ماشومانو د اصلاح او روزنې مرکزونو ته د ارجاع کولو په ګډون دې د هغو سرغړونو د ارتکاب له امله د زیانمنو یا مجنی علیهم مجازات ودروي چې په مخامخ ډول د انسان د قاچاق

څخه د زیانمنېدو پایله وي؛ د مجني علیه د پېژندني او د اصلاح او روزنې مرکزونو ته د هغوی د ارجاع په اړه دې رسمي معیاري کړنلارې جوړې او خپرې شي او د کارولو څرنګوالی یې دې اړونده مامورینو ته ور زده کړل شي؛ د جزا د قانون پنځم فصل دې تعدیل کړي تر څو د بچه‌بازۍ د فعل مجازات درانده شي او د ناوړه ګټې اخیستنې د نورو ډولونو لپاره د ټاکل شویو مجازاتو په کتار کې راشي؛ د ساحوي کارکوونکو د شمېر د زیاتوالي او د انسان د قاچاق او نورو ممنوعه توکو د قاچاق د توپیر په برخه کې د هغوی د وړتیا د لوړولو په ګډون دې د کورنیو چارو وزارت د انسان د قاچاق پر وړاندې د مبارزې قطعاتو وړتیا پیاوړې کړي؛ د سرې تښتونې او د انسان د قاچاق د جرمونو پر وړاندې د مبارزې عالي کمېسیون وړتیاوې دې د انسان د قاچاق پر وړاندې د حکومت د اقداماتو د همغږي کولو او رپوټ ورکولو په موخه لوړې شي؛ په ملي، ولایتي او ځایي کچو دې د انسان د قاچاق د پېژندنې او همدارنګه د قانون د پلي کولو مالومولو، ساتنې او ستراتیژیو په اړه دې د مامورینو روزنې ته دوام ورکړي؛ د انسان د قاچاق پر وړاندې د مبارزې د مالوماتو د راټولولو، شنلو او کره رپوټ ورکولو په موخه دې هڅې ګړندۍ شي؛ د زیانمنو یا مجني علیهم د اصلاحي پروګرامونو څخه د اوږدمهاله ملاتړ لپاره دې سرچینې ځانګړې کړي؛ او حکومتي مامورینو په تېره بیا د کورنیو چارو او دفاع وزارتونو منسوبینو ته دې د ماشومانو د ګومارنې د منعې د قانون په اړه پوهاوی ورکړي او اړونده قوانین دې له جزایي تعقیب سره یو ځای پلي کړي.

## عدلي تعقیب

په ټوله کې حکومت د قانون د انفاذ په برخه کې خپلې هڅې ګړندۍ کړې، خو د مامورینو د مستند عدلي تعقیب یا محکومیت په موخه یې د هېڅ راز کړنو او اقداماتو په اړه رپورټ نه دی ورکړی، او د عمومي تحقیقاتو، عدلي تعقیب او محکومیتونو کچه د دغې ستونزې د ستروالي په پرتله ډېره ټیټه پاتې ده. د انسان او کډوالو د قاچاق پر وړاندې د مبارزې د ۲۰۱۷ کال قانون، د بچه‌بازۍ *[هغه فعل چې نارینه د ټولنېزې او جنسي سرګرمۍ لپاره د هلکانو څخه ناوړه ګټه اخلي]* په ګډون د انسان قاچاق او ناوړه کاري او جنسي ګټه اخیستنه ناقانونه وګڼله او جرمي توصیف یې ورکړ. دغه قانون د یادو جرمونو مرتکبینو ته د ۵ او ۸ کلونو تر منځ د طویل حبس مجازات ټاکلي، او په مشدده حالاتو کې یې د حبس موده د ۱۰ څخه تر ۱۵ کلونو پورې لوړه کړې او که چېرې د وسله والې جګړې لپاره ګومارنه د مجنی علیه د مړینې لامل شي، د اعدام مجازات ورته ټاکل شوي دي. دغه مجازات د جنسي ناوړه ګټې اخیستنې په برخه کې کره او د مشدده جرمونو د مجازاتو سره انډول لري. حکومت د جزا نوی کود توشېح کړ چې د ۲۰۱۸ کال په فبرورۍ میاشت کې نافذ او په کې راغلي تعدیلات، په ۲۰۱۷ کال کې د خپاره شوي قانون د احکامو ځایناستي شول. د جزا د نوي کود ۵۱۰مه ماده د بچه‌بازۍ په ګډون جنسي ناوړه ګټه اخیستنه او اجباري کار جرمي کړنې وبللې. د یاد قانون ۵۱۱مې مادې د انسان د قاچاق جرم ته که چېرې مجنی علیه نارینه او بالغ وي د ۵ څخه تر ۱۰ کلونو پورې د طویل حبس مجازات، که چېرې مجنی علیه ښځه یا ماشوم وي یا د بچه‌بازۍ په فعل کې تر ناوړه ګټې اخیستنې لاندې راغلی وي د ۱۰ څخه تر ۱۸ کلونو پورې د طویل حبس مجازات لوړ کړي دي. ۵۱۲مې مادې د انسان د قاچاق په جرم کې مشدده حالات تصریح کړي او جنسي ناوړه ګټې اخیستنې یا په جبري ډول په وسله واله جګړه کې د مجني علیه ګومارلو ته یې

د ۱۶ څخه تر ۲۰ کلونو پورې د طویل حبس مجازات، او که مجنی علیه په وسله واله جګړه کې مړ شي د ۲۰ څخه تر ۳۰ کلونو پورې د طویل حبس مجازات ټاکلي دي.

دغه مجازات په بشپړه توګه کره دي او د جنسي ناوړه ګټې اخیستنې په اړه د نورو مشدده جرمونو لکه جنسي تیري سره انډول لري. په همدې توګه، د جزا په نوي کود کې، په مشخص ډول د بچه‌بازۍ د فعل جرمي توصیف په یوه ځانګړې فصل کې ځای کړل شوی دی. دغه فصل د بچه‌بازۍ اړوند د انسان د قاچاق د سرغړونو په روښانه او صریح جرمي وصف سربېره، د بچه‌بازۍ تر فعل پورې د تړلو مشخصو اعمالو لپاره د ۵۱۰مې مادې په پرتله ټیټ مجازات ټاکلي دي. ډېری ټاکل شوي مجازات په بشپړه توګه کلک او سخت نه دي او د نورو جرمونو لکه جنسي تیري لپاره د ټاکل شویو مجازاتو سره انډول نه لري. حکومت د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منعې د قانون په کارولو سره هم چې په ۲۰۰۹ کال کې خپور شوی دی، د جنسي ناوړه ګټه اخیستنې مرتکبین تر عدلي تعقیب او محکومیت لاندې راوستلي دي.

حکومت د رپوټ ورکولو د دورې په ترڅ کې د انسان د ۱۳۲ قاچاق وړونکو څخه د تحقیقاتو ترسره کولو او د انسان د قاچاق د اقدام لپاره د پنځو تنو په ګډون د ۷۳ تنو نورو د عدلي تعقیب په اړه رپوټ ورکړی چې د رپوټ ورکولو د تېرې دورې په پرتله چې د ۱۰۳ قاچاق وړونکو څخه تحقیقات او د ۶۳ نورو عدلي تعقیب رپوټ شوی و، د زیاتوالي څرګندونه کوي. حکومت د رپوټ ورکولو د دورې په بهیر کې په ابتدائیه محاکمو کې د انسان قاچاق ته د څلورو اقدامونو یا هڅو په ګډون، د ۳۳ قاچاق وړونکو د محکومیت خبر ورکړی دی چې دغه شمېره د رپوټ ورکولو د تېرې دورې د محکومینو د شمېر سره ورته والی لري. د انسان د قاچاق د ۲۹ دوسیو لپاره د ۶ میاشتو څخه تر ۲۱ کلونو پورې د حبس مجازات ټاکل شوي دي؛ د ۲۸ دوسیو لپاره د یوه کال یا زیاتې مودې حبس و ټاکل شو او یوې قضیې ته د ۶ میاشتو نابسیا مجازات ورکړل شول. د انسان قاچاق ته د هڅې یا اقدام د هرو څلورو محکومیتونو په منځ کې، مجازات د یوه کال او یوې میاشتې څخه تر اتو کلونو حبس پورې بدل شوي دي. حکومت د اړونده قضیو جزئیات نه‌دي رپوټ کړي، له همدې امله یې د جبري کار یا بچه‌بازۍ جرمونو ته رسیدګي ډېره څرګنده نه‌ده.

د قانون پلي کوونکي مامورین او عدلي قضایي چارواکي لا تر اوسه هم د انسان د قاچاق په اړه لږ پوهاوی لري. دري ژبه، چې په افغانستان کې په پراخه کچه ورباندې ګړېږدنه کېږي، د تاریخي پلوه د انسان قاچاق او د کډوالو قاچاق ته یو ویې کاروي. چارواکو هڅه کړې تر څو دغه مسئله د ۲۰۱۷ کال په خپاره شوي قانون کې د انسان او کډوالو قاچاق ته د بېلو اصطلاح‌ګانو او تعریفونو په شاملولو سره روښانه کړي؛ سره له دې د اړونده مامورینو د پوهاوي څخه د ډاډمنېدو لپاره د نویو اصطلاح‌ګانو په برخه کې اړین روزنیز پروګرامونه، په ځانګړې توګه په ځایي او ولایتي کچه، ډېر لږ دي. د کورنیو چارو وزارت د انسان د قاچاق او د کډوالو د قاچاق پر وړاندې د مبارزې د قطعې د پلازمېنې کابل په ګډون، په ۳۴ ولایتونو کې فعالې دي چې په مرکز کې ۱۶ افسران او په هر ولایت کې دوه دوه کارکوونکي په کې په دندو بوخت دي. د پرسونل شمېر کم او روزنیزو پروګرامونو او سرچینو

ته لاسرسی يې نابسيا دی. ناحکومتی او نړيوالو سازمانونو په ۲۰۱۷ کال کې د حکومت په مرسته تر ۲۰۰۰۰ تنو څخه زياتو حکومتي مامورينو، او د ديني مشرانو او قانونپوهانو په ګډون د مدني ټولنو غړو ته د ورتيا لوړونې ۶۵۶ روزنيز پروګرامونه په لاره واچول. د رپوټ ورکونې د دورې په پای کې عالي کمېسيون د يو نړيوال سازمان په تخنيکي او مالي مرسته د يوه روزنيز لارښود طرحه وروستۍ کړه ترڅو د سرحدي پوليسو، د کډوالو وزارت مامورينو، د ملي امنيت منسوبينو ، ناحکومتي مؤسسو ته چې په ځانګړي ډول د انسان د قاچاق پر وړاندې د مبارزې په برخه کې کار کوي، او د خوندي خونو يا پناه ځايونو مديرانو ته روزنه ورکړي.

د انسان د قاچاق په جرم کې د رسمي چارواکو ښکېلتيا او لاس لرل لا هم د يوې جدي او پراخې ستونزې په توګه پاتې شوې ده. د رپوټونو پر بنسټ يو شمېر حکومتي او امنيتي مامورين د بچه‌بازۍ په فعل کې ښکېل دي. پوځي چارواکو کله ناکله ننۍ څېړنې پيل کړې دي خو هيڅ داسې رپوټ نه دی ورکړل شوی چې په دغو قضيو يا د انسان د قاچاق اړونده بله قضيه کې ښکېل حکومتي مامورين په کې مجرم پېژندل شوي وي، په داسې حال کې چې د رپوټ ورکونې په دوره کې جزايي تعقيب، محکوميتونه او مجازات ې لوړې کچې ته رسېدلي وو. د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کميسيون د ۲۰۱۴ کال د رپوټ د ارزونو پر بنسټ، د بچه‌بازۍ په فعل کې ښکېلو کسانو د قانون پلي کوونکو مامورينو، څارنوالانو او قاضيانو ته بډې ورکړې او يا يې د هغوی سره خپلوي درلوده چې د عدلي تعقيب څخه يې معافيت ترلاسه کړی. د ۲۰۱۷ کال په فبرورۍ مياشت کې د يوې ولسوالۍ د پوليسو قوماندان او د پوليسو شپږ تنه منسوبين د بچه‌بازۍ په يوه محفل کې د ګډون له امله ونيول شول؛ د نېرې رپوټ ورکونې په دوره کې ياد قوماندان د دندې څخه ګوښه کړل شو خو لا هم د ۲۰۱۸ کال د رپوټ ورکونې د دورې په پای کې خپل قطعي محکوميت ته په تمه دی. حکومت د امنيتي ځواکونو د منسوبينو پر وړاندې د ترسره شويو اقداماتو هيڅ ډول رپوټ نه دی ورکړی. ملګرو ملتونو د افغانستان د ملي پوليسو له خوا د ګومارلو د لږ تر لږه اوو قضيو، د سيمه ايزو پوليسو له خوا د اوو او د ملي امنيت د رياست د منسوبينو له خوا د يوې قضيې په ګډون، د حکومت له‌خوا په جګړه ايزو او ناجګړه ايزو سيمو کې د ماشومانو څخه د ناوړې ګټې اخيستنې دوام تائيد کړی دی. د افغان سيمه ايزو پوليسو له خوا د ماشومانو څخه د ناوړه ګټې اخيستنې په يوه تائيد شوې قضيه کې د دوو تنو ماشومانو څخه د بچه‌بازۍ په فعل کې ناوړه ګټه اخيستل کېده. داسې رپوټونه هم شته وو چې حکومت پلوه وسله والو او مليشو چې د حکومت ملاتړ ورسره دی، په ناجګړه ايزو برخو کې ماشومان ګومارلي دي. څارونکو رپوټ ورکړی چې يو شمېر مامورين د بډو په اخېستو سره د تابعيت په تذکرو کې د هلکانو عمرونه تر ۱۸ کلونو څخه لوړ ښتوي.

**ساتنه:**

حکومت د انسان د قاچاق څخه د زيانمنو د پېژندنې لپاره خپلې هڅې ګړندۍ کړې، خو د زيانمنو د پېژندنې او د مرستندويه شمېرو په اړه يې بشپړ مالومات نه دي راټول کړي. عالي کميسيون په ۲۰۱۷ کال کې د قاچاق د شونو ۴۷۶ زيانمنو پېژندنه ريوټوي، په ۲۰۱۶ کال کې ۲۳ تنه د حکومت او ۹۳ تنه د ناحکومتي مؤسسو له‌خوا پېژندل شوي دي. حکومت د انسان د

قاچاق د پېژندل شویو زیانمنو په شمېر کې د زیاتوالي لامل د ناامنۍ زیاتېدل او بېوزلي بولي او زیاتوي چې ډېری زیانمن د ۱۸ کلونو تر قانوني کچې ټیټ عمر لري او اروپا ته د کار په موخه په لېږدولو غولول شوي وو؛ حکومت د دغو قضیو په اړه بشپړ مالومات نه‌دي چمتو کړي تر څو د انسان قاچاق، د کډوالو قاچاق او نور اړونده جرمونو تر منځ توپیر وشي.

حکومت د رپوټ ورکونې په دوره کې د انسان د قاچاق د زیانمنو د پېژندنې د سیستماټیکو کړنلارو څخه کار نه دی اخیستی، او څرګندوي چې د ولسوالیو او ولایتونو په کچه مامورین لا تر اوسه د انسان د قاچاق او د کډوالو د قاچاق اصطلاح ګانې سره ګډوي، له همدې کبله ځینې مامورین نه دي توانیدلي چې د انسان د قاچاق زیانمن وپېژني.

د یوې نړیوالې مؤسسې په همکارۍ، عالي کمېسیون حکومتي مامورینو او د مدني ټولنو غړو ته یو روزنیز لارښود رامنځ ته رکړ چې د انسان د قاچاق شاخصونه او د زیانمنو د پېژندنې او خوندي خونو یا اصلاحي مرکزونو ته د هغوی د ارجاع په اړه معیاري کاري کړنلارې بیانوي. عالي کمېسیون او نړیوالو سازمانونو دغه لارښود د رپوټ ورکونې د دغې دورې په پای کې وروستی کړ، ځکه یې خپراوی او پلي کېدل تر اوسه نه دي پیل شوي. پولیس اړینې لارښوونې او مالي سرچینې نه لري تر څو د تحقیقاتو پر مهال قربانیانو ته (د اوبو او خوړو په ګډون)، بنسټیز مراقبتونه چمتو کړي. په ډېری مواردو کې پولیس افسران زیانمنو ته د بنسټیزو مراقبتونو د برابرولو لپاره خپلې شخصي پیسې لګوي. د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت د هغو کسانو په ګډون چې له نورو هېوادونو څخه افغانستان ته بېرته راستنېږي، د انسان د قاچاق زیانمنو ته د ثبت او راجسټر، *[سرپناه یا اصلاحي مرکزونو ته]* د ارجاع او ټولنیز خدمات چمتو کړي دي، خو د دغه راز کړنو په اړه یې تفصیلات نه دي ورکړل شوي. د ښځو د ساتنې او مراقبت لپاره په ۲۱ ولایتونو کې ۲۹ خوندي خونې یا سرپناوې فعالې دي چې د ناحکومتي سازمانونو له خوا اداره کېږي او ښځینه زیانمنو ته د لاسرسي وړ محافظتي، حقوقي او ټولنیز خدمات برابروي. د ښځو چارو وزارت د ښځو ټولې خوندي خونې د ساحوي لیدنو کتنو په مټ څاري او اړونده چارې یې تنظیموي تر څو ډاډ تر لاسه شي چې د خوندي خونو کړنې د جوړو شویو مقرراتو او لارښوونو سره سمون لري، او د همغږۍ له ملي او ولایتي کمیټو کوربه‌توب کوي تر څو د ساحوي لیدنو کتنو په ترڅ کې موندنې تر بحث لاندې ونیسي او ننګونې ومومي.

د کورنیو د لارښوونې مرکزونه په ۱۹ ولایتونو کې د انسان د قاچاق د زیانمنو په ګډون ښځو او ماشومانو ته حقوقي او ټولنیز خدمات وړاندې کوي. د ماشومانو د خوندیتوب د عمل شبکې، یو شمېر ناحکومتي سازمانونو، مدني ټولنې او حکومتي بنسټونو د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت تر څارنې لاندې په ۱۱۰ ولسوالیو کې د انسان د قاچاق څخه زیانمنو ماشومانو ته سرپناه برابره کړې او د خوندیتوب ځینې خدمات ورته وړاندې کوي. تر اتلس کلنۍ څخه د کم عمره هلکانو لپاره د ځانګړې سرپناه په ګډون، په کابل کې د ناحکومتي سازمانونو له خوا د جبري کار او ناوړه ګټې اخیستنې په موخه د انسان د قاچاق زیانمنو ته دوه سرپناوې فعالې دي. که ناکله د انسان د قاچاق څخه زیانمن شوي ماشومان د حکومت له خوا روزنتونونو ته لېږدول شوي خو بیا هم یو شمېر ماشومان په روزنتونونو کې د انسان د قاچاق د خطر سره مخ شوي دي.

په کابل کې د انسان د قاچاق د زیانمنو لپاره لنډمهاله سرپناه چې حکومتي ملکیت وو او د یوه نړیوال سازمان له خوا اداره کېده، د مرستندویه مالي سرچینې د درېدو څخه وروسته وتړل شو. د انسان د قاچاق نارینه زیانمنو ته د سرپناه د نه شتون ستونزه چې عمر یې تر اتلس کلنۍ زیات وي، په خپل ځای پاتې ده. حکومت د انسان د قاچاق زیانمن په څېړنو کې برخه اخیستو ته نه دي هڅولي؛ حکومت زیانمنو ته د بشپړ ملاتړ، امنیت او خوندیتوب خدمات برابر نه‌کړل تر څو په خوندي توګه او پرته د خطر څخه په څېړنو کې مرسته وکړي. په افغانستان کې د نافذو قوانینو پر بنسټ، د انسان د قاچاق بهرني زیانمن کولای شي لږ تر لږه تر شپږو میاشتو پورې په لنډمهاله توګه په افغانستان کې پاتې شي. د ۲۰۱۷ کال په رپوټ کې په افغانستان کې د کوم بهرني زیانمن په اړه یادونه نه ده شوې.

ځینې وختونه چارواکي د ماشومانو په ګډون د انسان د قاچاق د زیانمنو سره د محرم د نه ملتیا یا د اخلاقي جرمونو د ارتکاب لامله د مجرم په څېر چلند کوي؛ مامورینو لا هم د فحشاء یا د ناقانونه جنسي مقاربت (د واده پرته) لامله د انسان د قاچاق د زیانمنو توقیف، حبس او مجازاتو ته دوام ورکړی، پرته له دې چې فحشاء ته په جبري توګه د هغوی اړ کېدل یا فحشاء ته د میړه له‌خوا د اجبار په پایله کې د هغوی تېښته په پام کې ونیول شي. چارواکو کله کله د انسان د قاچاق زیانمن د جعلي اسنادو د پراوونو د تېرولو له امله تر عدلي تعقیب لاندې نیولي دي. د جزا د نوي کود ۵۱۸مه ماده حکم کوي چې د انسان د قاچاق زیانمن یا مجنی علیه د جرم د ارتکاب یا د جعل شویو اسنادو د کارولو لامله په داسې حال کې چې د انسان قاچاق زیانمن یا مجني علیه وي، تر عدلي تعقیب لاندې نه‌نیول کېږي. کله ناکله په سرپناه یا خوندي خونو کې د ځای د نه شتون له کبله اړونده مامورینو د انسان د قاچاق ښځینه زیانمنې/مجني علیهم حبس کړې دي. د ناحکومتي سازمانونو د رپوټونو پر بنسټ، د ماشومانو د قاچاق ځینې زیانمن/مجني علیهم د ماشومانو د اصلاح او روزنې په مرکزونو کې تر حجز لاندې نیول شوي او ځینې یې بیا آن تر کلونو پورې هلته پاتې شوي دي. د بچه‌بازۍ په جرم باندې د تورنو کسانو په ګډون د انسان د قاچاق نارینه زیانمن د ماشومانو د اصلاح او روزنې مرکزونو ته لېږدول کېدل. د رپوټ ورکونې د دغه پړاو په ترڅ کې د بچه‌بازۍ د فعل څلور زیانمن چې پخوا نیول شوي وو، له تور پرته خوشي شول. حکومت هغه ماشومان چې د حکومتي او ناحکومتي پوځي ډلو له خوا د سرتېري په توګه ګومارل شوي، د جګړې د لیکې څخه نه دي بېل کړي، هغوی ته د ټولنې سره د بیا یوځای کېدو ملاتړي خدمات نه دي برابر شوي او یا هم ورته ارجاع شوي نه دي.

**مخنیوی:**

حکومت د قاچاق د مخنیوي لپاره خپلې هڅې زیاتې کړې دي. د ۲۰۱۷ کال په اګسټ کې عالي کمیسیون د عدلیې وزارت په اډانه کې په یوه خپلواکه حکومتي اداره بدل شو؛ د دغې ادارې د ډېری کارکوونکو کړنې د بشري حقونو د نورو مسایلو تر څنګ د انسان په قاچاق باندې څرخېدې. په ۲۰۱۷ کال کې د دوولسو وزارتونو او ادارو څخه جوړ شوي ستر کمېسیون درې ځلې

ناستې وکړې، که څه هم ټولو وزارتونو په دغو غونډو کې ګډون نه درلود. یوې تخنیکي کاري کمیټې په ۲۰۱۷ کال کې اته غونډې جوړې کړې او د نړیوالو او ناحکومتي سازمانونو سره یې د دغه کمیسیون د پالیسیو د پلي کېدو په موخه مخامخ همکاري کړې.

د قاچاق پر وړاندې د مبارزې ولایتي کمېسیونونو په ۳۳ ولایتونو کې خپلې کړنې همغږې کړې تر څو د عالي کمېسیون لهخوا جوړه شوې پالیسي په عمل کې پلې کړي، سره له دې عالي کمېسیون د رپوټ ورکونې په دوره کې یوازې د ۱۶ هغو د فعالیت خبر ورکړی. حکومت د ملي عمل د پلان د پلي کېدو لپاره چې ټاکل شوې د ۲۰۱۸ کال د اپریل په میاشت کې پای ومومي، خپلو هڅو ته دوام وکړی دی. عالي کمیسیون د یوه نړیوال سازمان په مرسته د لومړني ملي رپوټ مسوده جوړه کړه تر څو د انسان د قاچاق په اړه لېوالتیاوې، قوانین او ټولنیز اندونه په هر اړخیزه توګه تر کتنې او شننې لاندې ونیول شي؛ تخنیکي کمیټې د دغې څېړنې ملاتړ وکړ خو په دې ونه توانیده چې نور وزارتونه د انسان د قاچاق اړونده شمېرو او احصائیو راټولولو او شریکولو ته رضا کړي. عالي کمیسیون د نړیوالو او ناحکومتي سازمانونو په همکارۍ د عامه پوهاوي پروګرامونه چې د رپوټ ورکونې په تېره دوره کې یې شمېر ۲۲ و د ۲۰۱۷ کال د رپوټ ورکونې په دوره کې ۲۱۰ ته لوړه شوې چې کابو ۱۶۵۰۰ تنو ترې ګټه پورته کړې. همدارنګه حکومت د جوماتونو ملا امامان هڅولي تر څو د اوونیزو خطابو د لارې د عامه پوهاوي کچه لوړه کړي.

د ۲۰۱۷ کال په ډسمبر کې ملي دفاع وزارت د افغانستان د ملي اردو لپاره په وسلهوالو ځواکونو کې د ماشومانو د خوندیتوب پالیسي جوړه کړه چې د ماشومانو حقونه او د ماشومانو د ګومارنې منع یې بیان کړې او په وسلهوالو ځواکونو کې د ښکېلو ماشومانو د څارنې، تنفیذ، د تاوتریخوالي د رپوټ ورکونې، ژغورنې او مراقبت اړونده کړنلارې په کې ځای شوې دي. د ۲۰۱۷ کال په سپټمبر کې د کورنیو چارو وزارت د ماشومانو محافظتي قطعه رامنځته کړه او په ټول هېواد کې یې د هغې شمېر ۲۲ ته لوړ کړ تر څو په امنیتي ځواکونو کې د ماشومانو د ګومارنې څخه مخنیوی وشي. د یوه نړیوال سازمان د څرګندونو پر بنسټ، د ماشومانو محافظتي قطعې د ۲۰۱۷ کال د اپریل څخه تر جون میاشت پورې د ۷۹ ماشومانو د ګومارنې مخنیوی وکړ. حکومت د نویو برېښنایي تذکرو د وېش د پلانونو جوړولو لپاره چې د زیاتې مودې راهیسې ځنډېدلې، خپلو هڅو ته دوام ورکړی دی. حکومت د ملګرو ملتونو په مرسته د د ټولنې سره د راستنېدونکو افغان کډوالو او کورنیو بېځایه شویو د یوځای کېدو لپاره د ملي عمل پلان کارولی دی؛ حکومت په ۲۰۱۷ کال کې د پاکستان او ایران هېوادونو څخه د ۶۰۰۰۰۰ اسناد لرونکو او نااسناده راستنو شویو افغانانو په ګډون د زیانمنونکو کسانو سره د مرستې لپاره د حکومت وړتیا محدوده او د نړیوالې ټولنې تر مرستو پورې تړلې پاتې ده. حکومت د جنسي سوداګرۍ او د جبري کار د غوښتنې د کمولو په برخه کې کوم اقدام نهدی کړی.

**د انسان د قاچاق د وضعیت لنډیز:**

لکه څرنګه چې په تېرو پنځو کلونو کې رپوټ ورکړل شوی، د هغو نارینهوو، ښځو او ماشومانو لپاره چې د جبري کار او جنسي ناوړه ګټې اخیستنې په موخه د انسان د قاچاق سره مخ دي، افغانستان د سرچینې، د پورې وتلو او د منزل یا د تلوځای هېواد بڼه لري. دلته د انسان د قاچاق کورنۍ قضیې د پولو څخه ورهاخوا قاچاق په پرتله ډېرې پېښېږي. په افغانستان کې د ښځو،

ماشومانو او نارینه‌وو څخه په ضمانت شویو دندو کې ناوړه ګټه اخیستل کېږي، داسې چې په دنده کې د نیولو لپاره یو لومړنی پور په کارګر باندې منل کېږي چې په پایله کې یې د کورنۍ د نورو غړو، او کله کله د څو نسلونو څخه ناوړه کاري ګټه اخیستل کېږي. په افغانستان کې زیات شمېر داسې کورنۍ شته چې د هېواد په ختیځو سیمو کې د ودانیزو خښتو د صنعت په برخه کې د پور په دام کې ایسارې پاتې دي او د عمر تر پایه ترې ناوړه ګټه اخیستل کېږي. په افغانستان کې د انسان د قاچاق ډېری زیانمن/مجني علیهم هغه ماشومان دي چې د غالۍ اوبدلو په کارخونو، د خښتو په بټیو، کورني خدمت، جنسي سوداګرۍ، سوالګرۍ، د کوکنارو  په کښت، د مالګې په کانونو، د هېواد د پولو څخه ورهاخوا د نشه‌یي توکو په قاچاق او د لارېو د کلینرانو په توګه تر ناوړه ګټې اخیستنې لاندې راځي. ځینې افغان کورنۍ سره له دې چې پوهېږي په لاسي توګه خپل ماشومان د جنسي ناوړه ګټې اخیستنې، په تېره بیا د بچه‌بازۍ د فعل لپاره پلوري چې یو شمېر حکومتي چارواکي او امنیتي منسوبین هم په دغه چاره کې ښکېل دي. داسې رپوټونه هم شته چې د قانون ځینې پلي کوونکي مامورین، څارنوالان، او قاضیان بډې اخلي او یا هم د بچه‌بازۍ د فعل د مرتکبینو سره د خپلوۍ اړیکې پالي او پرېږدي یې چې د مجازاتو څخه وتښتي. ځینې وختونه هغه کورنۍ چې د کوکنارو کروندې لري، خپل ماشومان د تریاکو په قاچاق وړونکو باندې پلوري تر څو د هغوی پورونه پرې کړي. په روزنتونونو کې د پرتو ماشومانو څارنه د حکومت په غاړه ده او د کنټرول او اداري چارې یې څو ناحکومتي سازمانونه پر مخ بیايي چې ځینې وختونه د قاچاق د خطر سره مخ کېږي. شیعه هزاره لږکي د جبري کار قربانیان دي. د ایران او  پاکستان هېوادونو څخه راستانه شوي کډوال او کورني بې‌ځایه شوي افغانان هم د جنسي او جبري ناوړه ګټې اخیستنې د خطر سره مخامخ دي.

په افغانستان کې ډېری وختونه نارینه، ښځې او ماشومان نښلوونکي شخص یا رابط ته پیسې ورکوي چې ایران، پاکستان، هند، اروپا او شمالي امریکا ته په تګ کې ورسره مرسته وکړي؛ یو شمېر همدغه نښلوونکي یا رابط کسان افغانان جبري کار یا فحشاء ته اړ باسي. افغان نجونې او ښځې په ایران او پاکستان کې د جبري ودونو په ګډون په ایران، هند او پاکستان کې د ناوړه جنسي ګټې اخیستنې او جبري کار د خطر سره مخ کېږي. افغان نارینه او هلکان په ایران، پاکستان، یونان، ترکیه او خلیجي هېوادونو کې په کرنیزو او ودانیزو ځانګو کې د جبري کار او د لومړني پور د اسارت د خطر سره مخامخ وي. هلکان، په تېره بیا هغه چې د ملګري پرته سفر کوي، په ځانګړې ډول د زیانمنېدو د خطر سره مخ کېږي. یو شمېر افغان هلکان په یونان کې  قاچاق وړونکو ته د زیاتو پیسو د ورکړې وروسته د ناوړه جنسي ګټې اخیستنې د خطر سره مخ کېږي. د رپوټونو سره سم، د ایران دولت د اسلامي انقلاب سپاه پاسداران د ۱۲ کلنو هلکانو په ګډون افغان کډوال په زور سره  اړ باسي چې د هغوی له خوا د جوړو شویو وسله‌والو ملیشو کتارونو ته ننوزي او د سوریې جګړې ته لاړ شي، او د نه منلو پر مهال هغوی په نیولو او افغانستان ته په بېرته ستنولو ګواښل کېږي.

په افغانستان کې حکومت او حکومت پلوه وسلوالو ډلو په ناقانونه توګه ماشومان ګومارلي او په پوځي او ملکي برخو کې کار اخلي. طالبانو او نورو وسله والو ډلو لکه د داعش – خراسان ته د ماشومانو د ګومارنې او ناوړه ګټې اخیستنې مسئوولیت ور د غاړې دی.  وسلوالې یاغي ډلې په جبري توګه ماشومان ګوماري او په ځانمرګو بریدونو کې ترې ناوړه ګټه پورته کوي. طالبان د

ديني او پوځي روزنو په ترڅ کې ماشومانو ته د وسلو د کارولو او د چاودېدونکو توکو د لېږد چلونه ورښيي. ځينې کورنۍ د طالبانو تر ولکې لاندې ښوونځيو ته د خپلو ماشومانو د لېږلو په بدل کې نغدې پيسې ترلاسه کوي. ماشومان په لرې پرتو، په تېره بيا د طالبانو تر ولکې لاندې سيمو کې په ځانګړي ډول د ګومارنې د زيانمنتيا له خطر سره مخ دي. حکومت پلوه وسلوالې ډلې، سيمه‌ايز او ملي پوليس د ماشومانو څخه په پوځي او ملکي برخو کې د شخصي خدمتګارانو، مرستندويه کارکوونکو او ساتونکو په توګه استفاده کوي. ځينې وختونه د افغانستان ملي اردو، د ملي امنيت رياست او افغان سرحدي ځواکونه هم ماشومان ګوماري. داسې رپوټونه هم شته چې د افغانستان د امنيتي ځواکونو يو شمېر غړي او نورې نادولتي ډلې له ځوانو هلکانو او نجونو څخه جنسي ناوړه ګټه اخلي.

په افغانستان کې د فليپيني، پاکستاني، ايراني، تاجکستاني، سريلانکايي او چينايي ښځو او نجونو څخه د جنسي ناوړه ګټې اخيستنې رپوټونه شته دي. د کارموندنې ځينې شرکتونه په لوړو معاشونو سره د کاري فرصتونو په پلمه هندي، سريلانکايي، نيپالي، هندي، ايراني، پاکستاني، او تاجکستاني اتباعو په ګډون بهرني کارګر افغانستان ته راکاږي؛ ګومارونکي بيا دغه کډوال منزل ته تر رسېدو وروسته جبري کار ته اړ باسي.